داکتر نثار احمد صمد

## افغانستان خپلواک دی که بلواک؟

### د پرون آزادونکی امریکا نن پخپله اشغالگر سو!

خلک وایي چې همدا د اسد ۲۸مه یا د اګسټ ۱۸ مه د افغانستان د خپلواکی ۸۹ یمه کالیزه ده. مګر په واقعیت کی دغسی نه ده ، بلکی د دي ۸۹ کالو څخه « لس کلنه » شوروی نیونه او « اووه کلنه » امریکایی نیونه اصولاً باید منفی سی چې پدي حساب افغانستان د ۱۹۱۹ کال راهیسی جمعاً ( ۷۲ ) کاله د خپلواکی له نعمت نه برخمن سوئ دئ او بس.

که یو څه شاته ولاړ سو، نو و به ګورو چي افغانستان هغه بد نصیب هېواد دئ چې په صرف ۸۲ کالو کی دري ځله د وخت د ستر ځواک تر پوځی نیونی لاندی راغلی دئ. په بل عبارت، افغانستان په نولسمه پیړی کی انګریزانو نیولی و، په شلمه پیړئ کی شورویانو نیولی و، او دا دئ په یوویشتمه پیړئ کی هم نن امریکایانو پسی نیولی دئ. لومړني اشغال د افغانستان ریښي ولړزولي ، دوهمي اشغال هغه سستي کړي، او دریيمي اشغال له بېخه پسی وکښلې.
له بل پلوه ، افغانستان هیڅکله هم مطلقاً د چا مستعمره سوئ نه دئ بلکی په هر اشغال کی یی صرف بهرنئ چاري محدودي یا بشپړ تري سپمېدلي دي حال دا چې کورنی چاری یی تل په خپل « مشروط » واک کی پاته سوي دي که هغه انګریزان وو، که روسان وو، او که نن امریکایان دي. د بهرنیو لخوا زموږ د بهرنیو چارو د کنترول له مخی ویلای سو چې افغانستان د امیر عبدالرحمن خان د واک پر مهال د یو « عدم الاستقلال » حالت ښکارو، حال دا چې د امیر حبیب الله خان د واک پر مهال بیا په یو « ناقص الاستقلال » حالت کی را ښکېل و، له همدي امله د امیر امان الله خان د واک پر مهال « مطلق الاستقلال » حالت ته ورسېد چې نن یې ( ۸۹ ) کاله پوره سوي دي.

افغان ولس تل د پردي یرغل او بهرنی نیوني پر ضد کلک مقاومت کړئ او یرغلګر یی هر ځل د سترو تلفاتو او شدیدو سرخوړیو سره مخامخ کړي دي. د هندوستان مرستیال واکمن « لارډ لارنس » حق په جانب و چې ولیکي « افغانان به فقر حتی له خطره ډک ژوند وګالي خو د پردیو تر واک لاندی راتلل هیڅکله هم نه زغمي.» همدا علت دئ چې افغانان د « ملی مبارزینو » په نوم د انګریزانو سره وجنګېدل، د « مجاهدینو » په نوم د شورویانو سره وجنګېدل او د « طالبانو » په نوم هم نن د امریکایانو سره جنګېږي. سابقه او تجربه ښیي چې تر څو د افغانستان نیونه جاري وی نو مقاومت به هم موازی ور سره رهی وی. ځکه ، د افغانانو ازلی جوړښت او فطرت همداسی راغلی چې په هیڅ توګه بهرنی نیونه نسی زغملای. دا به حق تلفي او ناځواني وی چې د افغانانو دا غیرت او سرښندنه د اغیارو ( مثلاً پاکستان ) په پله کی ور واچوو او د افغاني همت اعتبار ټوله پاکستانیانو ته وقف کړو حال دا چې په باطن کی بنه پوهېږو چې دا هر څه بنا پر کومه خاصه عُقده او عقیده باندی کوو.

په هر صورت ، که موږ وواېو یا نه ، او که نړیوال ووایی یا نه ، افغانستان نن د امریکا په مشری د ناټو د غړو هېوادو تر بالقوه اشغال لاندی دئ. افغان عوام ګرم نه دي چې وایی موږ « د غلام هېواد آزاد خلک » یو چې پر سر مو د بلیونونو ډالرو سیاسی تجارت روان دئ. د کابل رژیم خو هسی هم د واشنګټن لخوا خلق سوئ ، اوبه سوئ ، لوی سوئ ، او «مشروع!» سوئ دئ نو ځکه په حساب کی نه راځی. دغه رژیم د امریکا تر پوځی مداخلي وروسته وزوکړ چې په مصنوعی توګه یی د « ویټامین بي - ۵۲ » په زور ژر ژر لوی کړ او په چل ول ، ټګی او تزویر سره یې پسی « قانونی ! » کړ. ځکه نو هغه اصلاً خپلواک نه بلکی بلواک دئ.

وګوری ، بهرنی نیونه خو هغه وي چې په زرګونو بهرني پوځیان ( د اشغالی ولس د اجازې او موافقې نه پرته ) پخپل سر اړونده هېواد ته ور ننوځي، خپل مخالف رژیم نسکور کړي او پر ځای یی خپل ګوډاګی یا د خپلې خوښې رژیم هلته نصب او تحمیل کړي ( امریکا ته پر افغانستان باندی د حملې اجازه نه افغان ولس ، نه نړیوالې ټولنې او نه هم ملګرو ملتونو ورکړې وه ، بلکی د امنیت شورا د ۲۰۰۱ په سپتمبر کی صرف دا اختیار ورکړئ و چې د تروریزم پر ضد خپله دفاع وکړي « نه دا چې پر افغانستان حمله وکړي ». په دې پریکړه لیک کی هیڅ د افغانستان نوم هم نه دئ ذکر سوئ.)

بهرنی اشغال خو هغه وی چې یرغلګر پوځونه صرف او صرف پخپله اراده او خپله قوماندہ سره په اشغالی هېواد کی بی کنټروله او بی مسؤولیته پوځی عملیات ، بم وری ، نیوني او وژني وکړی ، هیڅوک او هیڅ مرجع یی هم مخ نسی راګرځولای که هغه ګوډاګی رژیم وی او که اشغالی ولس او که بهرنی نړی وی.

بهرنۍ نیونه خو هغه وی چې د اشغالی هېواد ځمکنی بشپړتیا او ملی حاکمیت په روزمره توګه پایمال وی. په سلګونو بهرني پوځیان هره ورځ په خپلو طیارو کی دې هېواد ته داخلیږی یا له هغه نه وزی ، نه د رژیم مشر او نه هم د دفاع وزیر او نه هم هیڅوک په خبر وی چې هغوی له کومه راځی ، چیری ځی ، څه شی راوړي ، څه شی وړي ، څه کوي او پر کومه ولسوالی یا کوم کلي باندی د بمونو باران لوروي او څومره د دوی هېوادوال به پارچه پارچه کړي.

بهرنۍ نیونه خو هغه وی چې اشغالګر پوځونه د نیولي هېواد پر ځمکه او فضا مطلق حاکمیت ولری ، هیڅوک هم ( آن د رژیم د مشر او دفاع د وزیر په شمول ) نه پوهیږی او نه هم پدې خبر وی چې د ورځی څو نظامی پروازه له خارج نه داخل ته یا له داخل نه خارج ته کیږی او هغوی څه پلانونه لری .

بهرنۍ نیونه خو هغه وی چې د هېواد په عمده پوځی هوایي پایګاوو (لکه بګرام ، شینډنډ ، کندهار...) کی د رژیم آن یوه پوځی طیاره یا هوایی قوت موجود نه وي، بلکی د هغو مطلق کنټرول د اشغالګرو په واک کی وي.

بهرنی نیونه خو هغه وی چې د پورتنیو کوایفو له امله هېواد تقریباً د ملی حاکمیت ، ځمکنی بشپړتیا او ملی او سیاسی مشروعیت څخه بی برخی وی. اصلی اراده او اداره بالکل د پردیو په لاس کی وی او د هېواد د برخلیک تصمیم د هغه د پولو څخه بهر نیول کیږی. همدا علت دئ چې د اشغال په صورت کی د خپلواکی ، دیموکراسی ، آبادی ، انتخاباتو او لویو جرګو جوړول ... ټول هغه غولونکي او ساختګی لوبی دي چې نتایج یی له مخکی څخه لا معلوم او ثابت دي.

بهرنۍ نیونه خو هغه وی چې د نړۍ د سرمایه دارترینو هېوادو د شتون او نیونی سره سره د اشغال سوي هېواد ولس د غربت او مصیبت شپې سبا کوی او پر سر یی بنه سیاسی بزنس روان وی.

بهرنۍ نیونه خو هغه وی چې هېواد یو تولیدی حالت نه بلکی یو بشپړ مصرفی حالت ولری او ملی اداره په ختو کی بنده وی. صادرات پر ځمکه خو واردات پر آسمان ګرځی. مافیایی او مخدره اقتصاد په اوج کی وی. د ارتشاء او فساد اقتصاد بنه په رونق کی وی. د رژیم د مشر څخه نیولې د هغه تر مرستیالانو، سلاکارانو، وزیرانو ، پارلمانی نمایندګانو ، پوځیانو ، پولیسو استخباراتو... پوری د ټولو معاشونه ، حتی « جیب خرڅ » لا اشغالګران ورکوی.

بهرنۍ نیونه خو هغه وی چې هلته بیا رغاونه د میږي په رفتار سره روانه وی او که کوم څه هم کیږی نو هغه تش په نوم او غیر تولیدی یا غیر عایداتی جنبه لری ، او یا هم دا چې تبلیغی یا سیاسی هدف لري.

آیا د پورتنیو څو لنډو یادونو او انګیرنو څخه کومه یوه یی په افغانستان کی صدق نه کوی؟ نو دا چې د نړۍ لومړنی شتمن هېواد یعنی امریکا دلته د خپل اشغال سره سره مؤثره پانګه نه اچوی ، د ترازو د « پوځی حل » پله یی له مخکی پورته کېدای نسی خو د « سیاسی حل » پله یی بیا مخکی ته را کوزیدای نسی بلکی په هوا ولاړه ده ، نو دا ترې ثابتیږی چې افغانستان د یوویشتمي پیړی یو کاملاً بلواک هېواد دئ ، او واشنګټن افغانستان د یو بل هدف لپاره استعمالوي او پخپله یی هغه په کار نه دئ. اوس شواهدو ثابته کړي چې «تروریزم» یوه پلمه وه او اصلی غایه د کسپین د حوزې او منځنی آسیا نفتی زیرمتون ته ځان ور رسول دئ چې دروازه یی همدا افغانستان دئ. دوهم دا چې افغانستان د چین او روسیې د احتمالی را خوځېدو مخنیویزه مورچل دئ. په بل عبارت، افغانستان د درو عمده ستراتیژیکی سیمو د ترلو نقطه ده چې هغه منځنی ختیځ ، منځنی آسیا او جنوبی آسیا ده او واشنګټن همدې نقطې ته سخته اړتیا لری. پدې حساب ، افغانستان نن د خپل حساس موقعیت قرباني سوئ دئ او د خپل دغه مهم دریځ سزاوي ګالی.
ځکه نو ویلای سو چې افغانستان د دې نوو استعمارچیانو لخوا د توپ د یوې تختې غوندی استعمالیږی یعنی دا چې افغانستان د امریکایی اشغالګرانو لپاره پخپله هدف نه بلکی د « هدف » لپاره یوه وسیله یا پُل دئ چې ترقی او آبادی یی نه غواړي.

هو ، دا هر څه د تاريخ تکرار دئ. وګوری برتانيي په ۱۹ مه پېړی کی افغانستان ته نبغ ضرورت نه درلود ، بلکی هغه يي د هندوستان د « طلايی مرغی » د ژغورني په غرض نيوئ. شوروي اتحاد هم په ۲۰ مه پېړی کی افغانستان نه غوښت بلکی هغه يي پر « ترمو اوبو » د کنټرول په خاطر نيوئ. کټ مټ امريکا هم نن په ۲۱ مه پېړی کی ځپلی افغانستان نه غواړي بلکی هغه يي د منځنی آسيا او کسپين د « نفتی زيرمو» د خپلولو په هدف نيولی دئ او بس.

فلهذا ، برتانويانو په نولسمه پيړی کی افغانستان د « يو بل هدف » په غرض د خپلواکی څخه محروم او بلواک کړئ و ، شورويانو بيا هغه په شلمه پيړی کی د « يو بل هدف » په غرض لس کاله د خپلواکی څخه محروم او بلواک ساتلی و، او بالاخره امريکايانو بيا په يوويشتمه پيړی کی افغانستان د « يو بل هدف » په غرض دا اووه کاله کيږی چی د خپلواکی څخه محروم او بلواک کړئ دئ ( خير دئ که موږ هر څومره هم ځانونه په عارفانه تجاهل سره تېر کړو ، خو دا تريخ حقيقت نسی پټېدای ).

امريکا په خپل دغه ارتکاب سره هغه ګرانښت او محبوبيت چی د افغانانو په زړونو کی يي درلود ، ټول له لاسه ورکړئ او برعکس هغه نن ورځ تر ورځی په مخالفت آن نفرت سره بدلېدونکی دئ . دا ځکه چی امريکا پرون د شوروی څخه د افغانستان د آزادونکی او نجات ورکونکی رول لوباوه ، خو نن دا دئ پخپله د هماغه افغانستان نيونکی او اشغالګر سو. ځکه نو ، که نن موږ د افغانستان د « خپلواکی!» د نمانځني په غرض هرڅومره خوښی او ميلي جوړي کړو ، هرڅومره مشاعري او غونډي جوړي کړو ، هرڅومره محفلونه او جشنونه جوړ کړو، هر څومره کنسرټونه او اتنونه جوړ کړو ، بيا هم د يو تريخ حقيقت په توګه افغانستان د تيرو اوو کالو راهيسی عملاً خپلواک نه بلکی بلواک دئ . والسلام